شیرمحمد امیني ستانکزی

۲۰۱۷/۰۴/۰۵

# د ژوند هيلي او نابېره مرګی

(لنډه کیسه)

د مني ځپرکي ورستنۍ ورځي او د ښوونځيو آزمويني پای ته رسيدلي وې، زده کوونکو د نمرو اعلان ته ورځي شميرلي. اسد له هغو تکړه او پوه زده کوونکو څخه ؤ، چي سږکال يې دولسم ټولګی پای ته ورسول، خو د اسد هغه هيلي، چي دي درلودې، ولي نا ځوانه مرګی د دنګ چنار په څير غوځ را ځملول.

د اسد يوه هيله دا وه، چي د نتايجو د اعلان په ورځ د کلي مشران به راټول او ښوونځی ته به بيوزي، تر څو خپله خبرپاڼه (اطلاع نامه) لاسته راوړي ،نو دوی به بيا ترکلي يې بدرګه او خپلي کورنۍ غړيو ته مبارکي وړاندې کړي.

اسد تازه د مجردی ژوند څخه خلاصی پيدا او کوژدن شوی ؤ، دي ته خدای داسي پيغله او په ونه دنګه ځواني درلودونکي بي بي ورنصيب کړي وه، خو قسمت د دواړو د يو ځای کيدو مل نه شو، اوس اسد او پيغله بي بي يې په دي نړۍ کي نشته.

د اسد د ښوونځي د پايلو داعلان ورځ راورسيده، اسد سهار وخت لمانځه ته پاڅيدل او لمونځ يې وکړ، بيا خپل مورکۍ ته وويل، چي زه کلي ته ځم او مشران خبروم چي زما د نتايجو د اعلان ورځ ده، ته به مي پلار ته ووايي چي چيرته لاړ نشي په نهو بجو ښوونځي ته يوځای له کلي مشرانو سره راشي.

اسد وويل، مورجاني دعايي کوه، چي د تيروکلو په شان زه په ټولګی کي لومړی درجه شم. چي زما د اول نمره کي زيری ميرويس جان هوسی چي د دي په نوم شوي ميرمن وه وروړي.

مور يي لاسونه په لپه کړ، ويې ويل چي زوی جانه خدای دي په هرلوري چي مخه شوه بريالی او سرلوړی دي لري.

ورځه ولاړ شه خدای دي بريالي او پر غاړه دي ګلانو سره ډک کورته راوله.

اسد ولاړ د کلي ځوتنه مشران يي ښوونځي ته په نهو بجو راوغوښتل، اسد کورته بيرته را ستون نشو او مخامخ د ښوونځي په لور رهي شو.

کله چي ښوونځی ته نږدې شو د اسد ترستر‌ګو هيڅ کوم زده کوونکي ونه لګيدل، ځان سره يې وويل، چي دا څه چل دی، ولي نن خو د نتايجو د اعلان ورځ ده. خو اسد خپل ساعت ته وکتل څه کم اته بجي وې اسد وويل، ښه دا خو وخت دی او نتيجي په نهو بجو اعلانيږي. مبايل يې له جيبه راوويست او خپلي بي بي سره په اړيکه کي شو. دي خپل بي بي هوسی ته وويل، چي ګراني نن زه خپل د اول نمرګۍ پاڼه ترلاسه کوم، چي ته ماته څه تحفه راليږي.

هوسی وويل اسد جانه الله دي تا راته بريالی لري، بس څه چي غواړي هغه به زه درولېږم، خو پلار ته به ووايم، چي تاته يو جوړ سپين کالي او ښکلي غاړه ولري، ګل به پري ووهم او دروی به يې ليږم، نور بيا سره ګورو.

کله چي د دوی دواړو خبري ختمي شوي نو اسد د ښوونځي انګړ ته ځان ورسول ګوري، چي زده کوونکي او ښوونکي راغلي ؤ.

اسد هم د خپلو مشرانو او د خپل پلار راتګ ته شيبي شميرلي. ټول زده کوونکي او ښوونکي ښوونځي ته راغلل په دي مهال د اسد د کلي مشران او پلار يې چي په لاسونو کي ګلان ؤ راننوتل.

د ښوونځی له اداري څخه سرښوونکی را بهر شول او زده کوونکوته يي وويل، چي د هر ټولګي زده کوونکي د په ليکه ځای پر ځای کيني او ميلمانه دي دلته د زده کوونکو مخ ته راشي او پرڅوکی دې کيني، زده کوونکي سره راټول او پرځای کيناستل.

د اداري څخه د هر ټولګي ښوونکي را بهر او له ميلمنو سره يې د روغبړ کولو وروسته د نمرو د اعلانولو مراسم يي د تلاوت او لنډو خبرو سره پيل او بيا د ښوونځي سرښوونکي وويل، په لومړی کي د دولسم ټولګي نمرې به اعلان کړو، ځکه د دې ټولګي زده کوونکي نور له ښوونځي څخه خدای په اماني اخلي، ټولو زده کوونکو په لوړ غږ د سر ښوونکي خبره تائيد کړي، چي سمه ده موږ دا خبره منو.

د دولسم ټولګي ښوونکی جان آغا د نتايجو اعلانولو لپاره ټول د دې ټولګي زده کوونکي متوجه کړل، اسد له ډيره شوق او هوس نه زړه په ډباري پيل وکړ، چي ګوندی؛ دی اول لمبر وي خو چي ښوونکي د نعيم نوم واخيست چي د دولسم او دښوونځی په کچه اولنمره دی مبارکي ورکړه.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

اسد پاڅيد چي دا يوولس کاله زه اولنمره وم دا ځنګه چي نعيم لومړی درجه شو، له واري يي چيغه او پرځمکه پريوت. ښوونکي نور خبرپاڼي بندي کړي او ټول په اسد راټول شول.
اسد يي جګ کړ اوبه يي پري واچولي خو اسد په هوش رانه غی، پلار او د کلي خلکو اسد روغتيايي مرکز ته ورسوول، خو چي ډاکټرانو د اسد وضعيت وکوت او معاينه يي کړ. پلار ته يي وويل، چي د خدای رضا ده هلک نور له ژونده لاس اخيستی.
د ډاکټر خبره چي د اسد پلار واريده بي هوشه پريوت له څو دقيقو وروسته چي ښه شو؛ نو يوځای د مشرانو سره د اسد جنازه د کور په لوري روانه کړه.
د اسد جنازه په نابېره توګه د مور او د کورنی غړو سترګوته کيښودل شوه، د خوښی ځای پر وير بدل شو، کله چي د اسد خبره هوسی ته ورسيده په چيغه يي ناره کړه، چي د اسد هيله ولي د ناځوانه مرګي خوراک شوه، اسد د دي نړۍ اولنمره نه؛ بلکي د هغي نړۍ اولنمره شو.
هوسی هم پرځمکه پريوته او له دي نړۍ ځخه خدای په اماني وکړه. د اسد او هوسی دواړه د جنازي کټونه د ګلانو په سينګار چي د کلي مشرانو او خپلوانو د اسد لپاره تحفي راوړي وي پري ټومبلي ؤ.
د اسد او هوسی د جنازي کټونه د کليوالو د اوږو پرمټ د کلي ځخه د هديري په لوري روان کړل او دواړه يوځای ځنګ په ځنګ د تور لحد غيږي ته وسپارل. خو اوس د دواړو هيلي په نورو نويو هيلو بدلي شوي او د هغي نړۍ آزموينې ته ولويدل، چي خدای خبر پايله به يي ځنګه وي او خبرپاڼه (اطلاع نامه) به په کوم لاس خپل کړي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ